# مسیر
ورځپاڼه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
سه شنبه د ۱۳۹۷ د مرغومې ۱۸مه | د ۲۰۱۹ د جنوري اتمه | دویم کال| ۳۱٤مه ګڼه


## ځیره
۴ مخ



### جکـ لندن

جک په ۱۹۰۲ میلادي کال کې د (the call of the wild) داستان پر لیکلو بوخت و. دغه داستان هم د نوموړي یو له هغو داستانونو څخه و چې ډېر لوستونکي یې لرل.

## په راتلونکو دریو کلونو کې به د کابل په باریکاب پارک کې ۳سوه میلیونه ډالره پانګونه وشي



د مرکزي زون پراختیایي اداره د راتلونکو دریو کلونو لپاره د صنعتي پارکونو په برخه کې د سلګونو میلیونو ډالرو پانګونې د جذب خبره کوي.
دغه اداره وایي، په اقتصادي او صنعتي پارکونو کې د پانګونې زیاتوالي ډېرو خلکو ته د کار زمینه برابره کړې او ورسره به کورني تولیدات هم زیات شي.
د دې اداري سرپرست عبدالسمیع ستانکزي د خپلو لاسته راوړنو او راتلونکو پلانونو په اړه د باریکاب صنعتي پارک ته په اشارې سره وویل: «هغه زېرى چې موږ یې لرو، د باریکاب د صنعتي پارکونو چارې په مډرن او د اسانتیاوو په برابرولو سره بشپړې شوې او ۲۹ پانګوالو د اقتصاد له عالي شورا په دغو پارکونو کې د پانګونې تاییدي تر لاسه کړې او په دوه یا دریو راتلونکو کلونو کې به ۳۰۰ میلیونه ډالره پانګه جذب شي چې له دې سره به ۵۰۰ زرو کسانو ته په غیر مستقیم ډول د کار زمینه برابره شي.»

# د امریکایي ځواکونو حضور به جنګي جنایتونه نور هم ډېر کړي



۳

د سولې خبرې او د حکومت ناکام سیمه ییز سیاست
۲ مخ

د افغان سولې په اړه د طالبانو او افغان حکومت د خبرو اړتیا
۲ مخ

څنګه له نورو سره ښه چلند وکړو؟
۵ مخ

## وکیلان: حکومت غواړي مشخص کسان پارلمان ته بریالي کړي

د ولسي جرګې ټاکنې چې له ترسره کېدو یې شاوخوا دوې میاشتې تېرېږي، په دغو ټاکنو کې د پراخو درغلیو په تړاو لاهم نیوکې او غبرګونونه پرځای دي.
د دې جرګې غړي وایي، حکومت په سمه توګه د ولسي جرګې ټاکنو پروسه مدیریت نه کړای شوه او اوس هڅه کوي، څو هغه نوماندان ولسي جرګې ته بریالي کړي چې دریځ یې د ملي یووالی حکومت سره په ټکر کې نه وي.
وکیلان وایي، د یادو نوماندانو د بریالیتوب لپاره ځانګړي دفترونه پر کار بوخت دي.
د ولسي جرګې غړی حمیدزی لالی وایي: «زه دې ته نه پوهېږم چې دلته په کابل کې څوک ورته ناست دي، له ټټو قومونو څخه هېڅوک نه راځي، دوه- درې قومه له صحنې څخه وځي او دغسې څوک راولي چې د دوی د خوښې وړ وي، زموږ په مخ کې یې وویل چې په وزیر اکبر خان کې یې دفتر ورته نیولی دی».
وکیلان وایي، که کمېسیون د ولسي جرګې ټاکنو په نتایجو کې شفافیت په نظر کې ونه نیسي او که له بایومټریک پرته کارول شوې رایې حساب شي، دوی ته د ټاکنو پایلې د منلو وړ نه دي.
په ورته مهال کې وکیلان په هېواد کې روان وضعیت ته په اشارې وایي چې په افغانستان کې د امریکا اوولس کلنه جګړه ییزه مبارزه له ماتې سره مخ ده.
دوی وایي چې دا مهال د افغانستان په ډېرو ولایتونو کې ناامنیو زور اخیستی او له امریکا سره د امنیتي تړون لاسلیک د دې لامل شوی چې افغانستان له سختو امنیتي ننګونو سره مخ شي.

## ایران: طالبان هڅه کوي چې له افغان حکومت سره سولې ته ورسېږي



۲ مخ

## نهادهای ناظر: کمیسیون انتخابات در تلاش جعل آرای کابل است



پس از آن‌که کمیسیون مستقل انتخابات اعلام کرد که آرای ۳۰۰ تا ۵۰۰ محل رأی‌دهی کابل را تفتیش می کند، نهادهای ناظر بر روند انتخابات می‌گویند که کمیسیون مستقل انتخابات تلاش دارد با این کار، برای این محل‌های رأی‌دهی سندهای جعلی بسازد.
این نهادها می گویند که کمیسیون مستقل انتخابات، آرای این مرکزها را تفتیش می کند و صندوق‌های این محل‌ها که برگه‌های نتایج ندارند، برای آن برگه‌های نتایج می‌سازد.
محمد امید نورزی، مسؤل بخش انتخابات فیفا در این باره گفت: «این تفتیش و بازشماری این محلات به خاطری صورت می‌گیرند که برای آن‌ها اسناد سازی شود و این سندها ارایه شوند».
محمد یوسف رشید، رییس اجرایی بنیاد انتخابات آزاد و عادلانه نیز بیان داشت: «وضعیت کابل هر روزی که می گذرد به گنج فساد تبدیل می‌شود و ترس دارم که در اخر روز به همان فیصله کمیسیون رسیده گی به شکایت‌های انتخاباتی که آرای کابل باطل شود، راه و چاره یی نداشته باشیم».
بیش از دو نیم ماه از برگزاری انتخابات مجلس نماینده‌گان می‌گذرد، اما کمیسیون مستقل انتخابات هنوز هم در حال تفتیش آرای صدها محل رأی دهی کابل است.
سید حفیظ الله هاشمی، عضو کمیسیون مستقل انتخابات دراین باره می‌گوید: «صندوق‌هایی که حالا به شمارش و تفتیش می‌روند غیر از صندوق‌هایی استند که قبلاً شمارش و تفتیش شده بود. این صندوق‌هایی است که متأسفانه ریزلت شیت‌هایش یا مشکل دارند یا ندارند.»


SHIGAL ENGLISH ACADEMY 2019
Shigal English Academy
COMING SOON...

دریــځ

## د سولې خبرې او د حکومت ناکام سیمه ییز سیاست

د افغانستان د سولې په تړاو خبرو کې د امريکا ترڅنګ سيمه ييز هېوادونه هم ښکېل دي او هر يو هڅه کوي چې افغان سوله له خپلو ګټو سره سمه وڅرخوي. پاکستان، ايران، روسيه، چين، ازبکستان، هند، متحده عربي امارات، سعودي، قطر، ترکيه او ځينې نور هېوادونه په يو ډول په دغو هلو ځلو کې فعال دي. پوښتنه دا ده چې په دې لوبه کې افغانستان چېرته دی؟

د افغانستان د ستونزې او بيا د سولې په تړاو دوه بلاکونه محسوس دي. يو امريکايي بلاک دی چې سعودي، امارات، قطر، هند او ځينې نور هېوادونه پکې راځي. په بل بلاک کې بيا روسيه، چين او ايران دي. پاکستان بيا که څه هم د امريکا په بلاک کې دی، خو له روسيې، ايران او چين سره هم خپله اړيکه ساتي او د افغانستان د بدلونونو په تړاو ورته ډاډ ورکوي. ايران له طالبانو سره منظم ليده کاته کوي، روسانو طالبان مسکو ته ور وبلل، اماراتو او سعودي هم ورسره ناستې وکړې، قطر دفتر ورکړی دی، همداسې نور هېوادونه هم په يو ډول په دغو مسايلو کې دخيل دي. پاکستان بيا له يوه اړخه له امريکا سره پر پټه معامله بوخت دی. له بله اړخه له سعودي او اماراتو هم امتيازات تر لاسه کوي. پاکستان بيا له ايران، روسيې او چين سره هم د افغانستان په تړاو معاملې لري. د پاکستان د بهرنيو چارو وزير څو ورځې وړاندې په همدې تړاو له کابل وروسته، مسکو، تهران، بيجينګ او دوحې ته ولاړ او په دې برخه کې فعاله ډيپلوماسي لري.

له بده مرغه د سيمه ييز سياست په برخه کې د ولسمشر غني طرحه د نورو ډېرو طرحو په شان ناکاره شوې ده. د افغانستان په تړاو غونډه وي، سيمه ييز هېوادونه او استازي يې پکې وي، خو افغانستان پکې نه وي. پاکستان له امريکا سره د افغانستان په تړاو پر معامله بوخت دی، خو حکومت نه يوازې د معاملې برخه نه دی، بلکې نه پوهېږي چې څه روان دي. حکومت له امريکا سره په يو اړخيزو اړيکو ټول سيمه ييز هېوادونه ناراضه کړي دي. له عربي نړۍ سره يې هم اړيکې هغسې ګرمې نه دي، لکه ده يې چې ژمنه کړې وه. که څه هم له سعودي سره څه نا څه اړيکې شته، خو پاکستان بيا په دې چاره کې ډېر مخکې دی او همدا اوس له سعودي او اماراتو ميلياردونه ډالره تر لاسه کوي.

د ملي يووالي حکومت ناکام سيمه ييز سياست نه يوازې دا چې موږ په نورو برخو کې له ستونزو سره مخ کړي يو، بلکې اوس د سولې په چاره کې هم يو ډول منزوي شوي يو. د افغانستان په تړاو په مهمو او جدي بحثونو کې موږ نه يو. نه يوازې دا چې موږ پکې نه يو، بلکې زموږ دښمن پکې شته. له همدې امله اوس د سولې خبرو اترو افغانانو ته يوه وېره هم پيدا کړې ده. سوله زموږ اړتيا او هيله ده او خلک په دې برخه کې د هڅو هرکلی کوي، خو د حکومت ناکام سيمه ييز سياست خلک د سولې پر هڅو هم شکمن کړي دي او وېره ده چې دا لوبه موږ کومې بلې کندې ته ونه غورځوي.

# د افغان سولې په اړه د طالبانو او افغان حکومت د خبرو اړتیا

▶ ليکنه: د ستراتېژيکو او سيمه ييزو څېړنو مرکز

په افغانستان کې له تېرو ۱۸ کلونو راهيسې روانه جګړه چې د لسګونو زرو افغانانو ژوند او هستۍ يې ترې واخيستلې، په اوسمهال کې يې د پای ته رسېدو په موخه امريکا او طالبان هڅه کوي چې يو له بل سره د خبرو له لارې تفاهم وکړي.

په دې لړ کې له تېرو څو مياشتو راهيسې د امريکا او طالبانو د استازو ترمنځ د سولې په اړه درې ځله مخامخ خبرې وشوې. دا خبرې که څه هم هيله بښونکې دي، خو د پايلو په اړه يې لا هم څه نه دي واضح شوي؛ ځکه طالبان يوازې له امريکا سره پر خبرو ټينګار کوي او نه غواړي افغان حکومت په دې پروسه کې برخه ولري. په بل اړخ کې بيا افغان حکومت له خپل مالکيت پرته د سولې هېڅ راز خبرې نه مني او په وروستيو کې يې داسې هڅې پيل کړې دي چې پر طالبانو د فشار زياتولو له لارې دغه ډله له ځان سره د مخامخ خبرو لپاره اماده کړي چې دې چارې د روانې پروسې د تخريب وېره هم زياته کړې ده.

په افغانستان کې د روانې جګړې بېلابېل لوري د امريکا ـ طالبانو ترمنځ د سولې په خبرو کې د افغان حکومت د موجوديت اهميت او دا چې له افغان حکومت پرته به د سولې خبرې څه پايلې ولري؟ هغه موضوعات دي چې دلته به پرې بحث وشي.

### د افغان جګړې ښکېل اړخونه

په افغانستان کې روانه جګړه په ۲۰۰۱ ز کال کې پر افغانستان د امريکا له بريد وروسته د طالبانو د رژيم له ړنګېدو سره پيل شوه. که څه هم د طالبانو د رژيم له نسکورېدو وروسته تر څو کلونو پورې په افغانستان کې ارامي وه او نږدې د هېواد ټوله خاوره د افغان حکومت تر کنټرول لاندې وه، خو له ۲۰۰۵ ز کال را وروسته طالبانو د افغان حکومت او نړيوالو پر وړاندې بېرته خپله جګړه پيل او ورځ تر بلې يې ساحه پراخه شوه.

په افغانستان کې له تېرو ۱۸ کلونو راهيسې په روانه جګړه کې د بېلابېلو وسله والو ډلو نومونه اخيستل کېږي چې ډېری يې د سيمې او نړۍ په استخباراتي کړيو پورې اړه لري، خو په ټوليز ډول دغه جګړه د دريو سترو ښکېلو اړخونو له لوري مخته وړل کېږي:

امريکا او نړيوال: امريکا او نړيوال ملګري يې په افغانستان کې د روانې جګړې د پيل کوونکو په توګه د دې جګړې يو مهم او اصلي ښکېل اړخ بلل کېږي. له ۲۰۰۱ تر ۲۰۱۴ ز کال پورې امريکا او ملګري يې د افغانستان په جګړه کې نېغ په نېغه ښکېل وو، خو له ۲۰۱۴ ز کال را وروسته يې د روانې جګړې په ډګر د افغان امنيتي ځواکونو د روزنې او مشورې دنده په غاړه واخيسته او لسګونه زره عسکر يې هم له افغانستانه و ايستل.

طالبان: په افغانستان کې د روانې جګړې دويم ستر اړخ طالبان دي. که څه هم په ۲۰۰۱ ز کال کې پر افغانستان د امريکا له بريد سره سم د طالبانو رژيم ړنګ شو او تر څو کلونو په هېواد کې ارامي وه، خو دې ډلې له څو کلونو وروسته بېرته د امريکا او افغان حکومت پر ضد خپله جګړه پيل کړه. دې جګړې ورځ تر بلې زور واخيست او د ۱۸ کلونو په تېرېدو طالبان اوسمهال شاوخوا د افغانستان په ۴۵ سلنه خاوره کنټرول لري او ترڅنګ يې د سيمې او نړۍ په کچه له مختلفو هېوادونو سره ډيپلوماتيکې اړيکې جوړې کړې دي.

افغان دولت: په افغانستان کې د روانې جګړې درېيم مهم اړخ افغان دولت دی. د طالبانو د رژيم له نسکورېدو وروسته د امريکا او نړيوالو په مرسته په افغانستان کې نوی نظام رامنځته شو. که څه هم دغه نظام ډېرې ستونزې او نيمګړتياوې لري، خو په روانه جګړه کې په ځانګړې توګه له ۲۰۱۴ ز کال را وروسته، د همدغه نظام په چوکاټ کې لسګونه زره افغانان د امنيتي ځواکونو په ليکو کې د طالبانو پر وړاندې جګړه کوي. دغه راز له تېرو ۱۸ کلونو راهيسې درې ځله د ټاکنو له لارې د نظام رهبري تغير شوې، د دولت درې ګونې قواوې (مقننه، قضايه او اجرائيه) فعالې دي، د هېواد په مختلفو برخو کې پرمختګونه شوي، د مختلفو هېوادونو سفارتونه دلته فعال او افغان دولت په نړيواله کچه سياسي او اقتصادي اړيکې لري.

### د سولې په خبرو کې د افغان دولت ځای

افغان حکومت له تېرو څو کلونو راهيسې له طالبانو سره د سولې د خبرو د پيل په موخه هڅې کوي. د ملي يووالي حکومت پر مهال په مختلفو ډولونو د سيمې او نړۍ په کچه پر طالبانو د فشار راوړلو هڅې وشوې، څو طالبان له افغان حکومت سره د سولې مخامخ خبرو ته په يو ډول اړ کړل شي، خو دې ډلې تل له امريکا سره پر مخامخ خبرو ټينګار کړی دی.

په وروستيو کې امريکا له دې ډلې سره د سولې خبرو ته غاړه اېښې او تر دې دمه د سيمې د ځينو هېوادونو په همکارۍ د دواړو لورو د استازو ترمنځ درې ځله مخامخ خبرې شوې دي. د سولې په نوم د دې روانې پروسې لويه ستونزه دا ده چې افغان دولت ته پکې ځای نه دی ورکړل شوی.

په افغانستان کې د روانې جګړې د يوه مهم او اصلي اړخ په توګه د سولې له خبرو د افغان حکومت ايستل، د دې پروسې د بريا پر وړاندې خنډونه پيدا کوي. ځکه په افغانستان کې د نوي نظام له جوړېدو نږدې ۱۸ کاله تېرېږي، سلګونه زره کسان د دغه نظام په چوکاټ کې پر دندو بوخت دي او د دغه نظام تر حاکميت لاندې خپل ژوند مخ ته وړي. په افغانستان کې د سولې د ټينګښت په برخه د ګڼو نورو اړخونو ترڅنګ په دغه هېواد کې د اوسني نظام رهبران، چارواکي او هغه ټول ولسونه چې د دغه نظام تر حاکميت لاندې ژوند کوي، هم هغه اړخ دی چې د جګړې د پای ته رسولو او سولې په پروسه کې د دوی هوکړه او نظر مهم او اغېزناک دی.

په اوسني نظام کې له سولې سره د ځينو اشخاصو او کړيو، پټ او ان ډېر کله ښکاره مخالفت د سولې پر وړاندې هم ستر خنډ بلل کېږي او همدې خنډ د روانې جګړې په اوږدېدو کې زيات رول لرلی دی. سولې ته د رسېدو په موخه اړتيا ده چې دغه شان کسان او کړۍ يا د سولې په پروسه کې د همکارۍ په موخه وهڅول شي او يا هم د سولې په پروسه کې د خبرو لپاره ځای ورکړل شي.

له افغان حکومت سره د سولې له خبرو د طالبانو انکار، په وروستيو کې حکومت په يو ډول داسې کړنو ته اړ کړی چې له امله يې پر طالبانو فشار راوړل شي، څو دغه ډله له افغان حکومت سره خبرو ته کېني.

ولسمشر غني څه موده وړاندې د افغانستان د ملي امنيت دوه پخواني رييسان امرالله صالح د کورنيو چارو او اسدالله خالد د دفاع وزارت د سرپرستانو په توګه وګومارل. دوی دواړه په هېواد کې د طالب ضد څېرو په نوم مشهور دي او دواړو يې د نوو دندو له پيل سره داسې شعارونه ورکړل چې د سولې د پروسې په زيان يې ګڼلی شو.

### له حکومت پرته سوله شونې ده؟

د سولې په اړه د امريکا ـ طالبانو د خبرو په لړ کې د دواړو لورو ترمنځ وروستۍ ناسته په متحده عربي اماراتو کې وه چې درې ورځې يې دوام وکړ. د دې ناستې پر مهال افغان حکومت هم خپل پلاوی ابوظبۍ ته په دې هيله لېږلی و چې ګواکې طالبان به د افغان حکومت له دغه پلاوي سره مخامخ خبرو ته حاضر شي، خو طالبانو له افغان پلاوي سره د سولې په باب خبرې کول رد کړل.

د طالبانو له دغه رد ځواب وروسته افغان حکومت د طالبانو پر وړاندې خپل دريځ لا سخت کړ. پر طالبانو يې د فشار راوړلو په موخه، د جګړې په ميدان کې تهاجمي حملې زياتې کړې، د امنيتي ادارو رهبري يې طالب ضد څېرو ته وسپارله او په وروستيو کې د افغان حکومت د دفاع نوي وزير اسدالله خالد په ټينګار سره وويل چې که طالبان د سولې خبرو ته حاضر نه شي، نو دوی به يې په زور د سولې خبرو ته حاضر کړي.

جګړه او پوځي فشارونه هغه څه دي چې له تېرو ۱۸ کلونو راهيسې په افغانستان کې ازمويل کېږي، خو پايله يې يوازې وژنه او بربادي ده. دا جګړه که لسګونه کاله نوره هم دوام وکړي، پرته له وژنو او بربادۍ به بل څه افغانانو ته ورنه کړي او بالاخره که پای ته رسېږي، نو د خبرو له لارې به پای ته رسېږي.

په اوسمهال کې د سيمې او نړۍ په کچه د افغان جګړې د پای ته رسېدو هڅې روانې دي، نو اړتيا ده چې طالبان او افغان حکومت د دې پر ځای چې له يوې او بلې لارې پر يو او بل فشارونه زيات کړي، د جګړې د داخلي اړخونو په توګه دې له نورو ډېر مسووليت احساس کړي او تر بل هر چا د دې روانې جګړې د پای ته رسېدو په موخه ګړندي ګامونه واخلي.

اړتيا ده چې طالبان د سولې په خبرو کې د امريکا ترڅنګ افغان حکومت ته هم د دې جګړې د يوه مهم لوري په توګه ځای ورکړي، څو د جګړې درې واړه اړخونه د سولې په پروسه کې هم ونډه ولري، خو که چېرې دا پروسه يوازې د طالبانو او امريکا تر منځ روانه وي، نو د افغان حکومت نه موجوديت به د سولې پر وړاندې خنډونه پيدا کړي چې له امله به يې دا جګړه نوره هم ګرمه شي.


## ولايتي شورا: په سرپل کې د طالبانو د جګړې مشري پاکستاني جنرالان کوي

د سرپل د ولايتي شورا غړي ادعا کوي چې پاکستاني جنرالان په دغه ولايت کې د افغان امنيتي ځواکونو پر وړاندې د طالبانو د جګړې مشري کوي.

د سرپل د ولايتي شورا مشر محمدنور رحماني وويل، وسله وال طالبان په کوهستانات او صياد ولسوالۍ کې روزنيز مرکزونه لري او له همدې مرکزونو خپل عمليات رهبري کوي.

هغه وويل، په دغه ولايت کې بهرنيو جنګياليو او د پاکستان د استخباراتو ادارې يا (ای اېس ای) غړو ته د طالبانو جنګي او روزنيز مسووليت ور په غاړه دی.

رحماني زياتوي: «د بومي او سيمه ييزو قوتونو رهبري د هغه چا سره ده چې له بهره راغلي دي. اکثراً پاکستاني متقاعد جنرالان يې مشري کوي، د هغوی جنګي او عملياتي برنامې د هغه کسانو له خوا ترسره کېږي چې بهرنيان دي.»



نومړي په سرپل کې د طالبانو د حملو د زياتوالي په اړه وايي، له دريو کلونو راپه دېخوا په کوهستانات او صياد ولسوالۍ کې د افغان امنيتي ځواکونو د عملياتو د نه ترسره کېدو په خاطر، دا سيمې اوس د بهرنيو تروريستانو پر پټنځايونو بدلې شوې دي.

رحماني وويل، طالبان او د هغوی بهرني جنګيالي د سرپل د مرکز په شيرمونو سيمې، د کوهستانات او صياد ولسوالۍ په ډېری سيمو او همدا راز د سوزمه قلعې او سانچارک ولسواليو پر ځينو برخو واک لري او اوسمهال د ياد ولايت د مرکز نيولو په هڅه کې دي.

نومړي زياته کړه: «د دريو کلونو په اوږدو کې د کوهستاناتاتو ولسوالۍ، کته قلعه، شيرمونو، د صياد ولسوالۍ او ځينې نورې برخې، سره له دې چې د طالبانو له منګولو بېرته ونه نيول شوې، بلکې د هرې ورځې په تېرېدو سره کلي يو پر بل پسې سقوط کوي او امنيتي ګواښونه د ډېرېدو په حال کې دي».

بلخوا په شمال کې د شاهين قول اردو وياند محمدحنيف رضايي ازادي راډيو ته وويل، تر ګواښ لاندې سيمو باندې د ملي اردو هوايي او کشفي ځواکونه څارنه لري او ډېر ژر به د وسله والو طالبانو او د هغوی د بهرنيو ملاتړو پر وړاندې پوځي عمليات پيل کړي.

نومړي وويل: «موږ تر ګواښ لاندې سيمو باندې نظارت او څارنه لرو. زموږ کشفي او هوايي ځواکونه پر يادو سيمو پام لري او د «ايثار-۱۰» عملياتو لړۍ به له فارياب وروسته په جوزجان او سرپل کې پيل شي.»

دا په داسې حال کې ده چې تر دې وړاندې د شاهين قول اردو چارواکو ايران هم په شمال زون کې وسله والو طالبانو ته د پرمختللو وسلو په ورکولو تورن کړی دی.

# د امريکايي ځواکونو حضور به جنګي جنايتونه نور هم ډېر کړي



امريکايي ځواکونه په افغانستان کې په جنګي جنايتونو تورن دي او د دوی د حضور دوام به دلته جنګي جنايتونه تر دې هم ډېر کړي. يوې امريکايي رسنۍ په افغانستان کې د امريکايي ځواکونو د اوسني حضور او د دغه حضور د دوام په اړه يو مطلب خپور کړی دی. د دغه مطلب په يوه برخه کې يې د جرمونو د نړيوالې محکمې د مشرې فاتو بنسوډا له خولې ليکلي چې په افغانستان کې مېشت امريکايي پوځيان او د دوی ملاتړي په جنګي جنايتونو کې ښکېل دي. د بنسوډا په خبره، د جرمونو نړيوالې محکمې تېر کال افغانانو ته وخت ورکړ چې په درېو مياشتو کې د بهرنيو ځواکونو د جنايتونو په اړه شکايتونه ورته وسپاري. هغې زياته کړې چې په درېو مياشتو کې نږدې ۱،۷ ميليونو کسانو د بهرنيو ځواکونو د جنګي جنايتونو په اړه شکايتونه او ادعاوې ورسره ثبت کړې دي.


هغې ويلي، که په افغانستان کې د امريکا نظامي ماموريت دوام کوي، نو دلته به د جنګي جنايتونو کچه تر دې هم لوړه شي. فاتو بنسوډا په افغانستان کې د امريکايي ځواکونو له لوري د خلکو د وژنې، ربړونې او په زندانونو کې د افغانانو د ځورونې په اړه د شکايتونو شمېره هېښوونکې او د نه باور وړ بولي. هغې ويلي چې همدغو جنګي جنايتونو او په زندانونو کې ناوړه چلند او شکنجو د امريکا پر وړاندې د وسله والو ليکې پیاوړې کړې دي او د امريکايي پوځيانو پر ضد يې کرکه ډېره کړې ده.

اوپېډ نيوز رسنۍ په دغه مطلب کې ليکي چې د امريکايي ځواکونو د ايستلو مسئلې په امريکا کې هم پراخ اختلافونه رامنځ ته کړي دي او د امريکا د دفاع وزير جېمز متېس هم د همدې اختلافونو په لړ کې استعفا ورکړه. سرچينه پر امريکا غږ کوي چې په افغانستان کې دې خپله اوږده جګړه نوره پای ته ورسوي او دلته دې د رواني ستونزې لپاره پر يوه سياسي حل فکر وکړي.

د امريکايي ځواکونو د جنګي جنايتونو په اړه داسې مهال راپورونه خپرېږي چې څو ورځې وړاندې نيويارک ټايمز امريکايي ورځپاڼې په سي ای اې پورې د اړوندو افغان وسله والو له جنايتونو پرده پورته کړې وه. دې ورځپاڼې په يوه اوږده مطلب کې ويلي وو چې د امريکا د مرکزي استخباراتو په اداره يا (CIA) پورې اړوند افغان وسله وال د امريکا په مستقيمه لارښوونه او غوښتنه عمليات ترسره کوي او د خلکو په ځورونه، شکنجه او وژنه کې لاس لري. په مطلب کې راغلي وو چې دغه کسان تر ډېره د خوست او ننګرهار ولايت په ځينو برخو کې د شپې او ورځې له لوري ځمکني او هوايي عمليات ترسره کوي. ورځپاڼه وايي چې دغو افغان وسله والو ته ټول امکانات امريکايي ځواکونه او (CIA) برابروي او دوی وحشيانه عمليات ترسره کوي چې ډېر کله عام وګړي پکې وژل کېږي.

تر دې وړاندې هم په افغانستان کې د امريکايي ځواکونو د جنګي جنايتونو په اړه ورته راپورونه خپاره شوي دي. دا تورونه هم شته چې د امريکايي ځواکونو وحشيانه او ظالمانه چلندونو د وسله والو ليکې پیاوړې کړې دي او د جګړې ډګر يې تود کړی دی. ډېرو نړيوالو رسنيو او څېړنيزو ادارو په ځلونو په افغانستان کې د امريکايي ځواکونو د حضور دوام د سيمې او افغانستان په زيان بللی دی او په خبره يې د دغو ځواکونو ناوړه چلندونو د خلکو کرکه پارولې ده او د دوی حضور به هېڅکله په افغانستان کې د ثبات او امنيت سبب نه شي. په افغانستان کې هم ډېری سياسيون او د ولسي جرګې غړي په دې باور دي چې امريکايي پوځيان هېڅ ډول قوانينو ته ځان ژمن نه بولي او ښه به وي چې د سيمې د ثبات لپاره له هېواده ووځي.

## مک: لويه څارنوالي دې په فساد د تورنو وزيرانو د دوسيو پايلې په ډاګه کړي



د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې د څارنې او ارزونې کمېټې يا (مک) له لويې څارنوالۍ غوښتي چې په فساد د تورنو وزيرانو د دوسيو په اړه دې د خپلو څېړنو پايلې له خلکو سره شريکې کړي.

مک تازه د عدلي او قضايي سکټور په تړاو خپل دربيم راپور خپور کړی چې پکې دغو ارګانونو ته د فساد ضد مبارزې په برخه کې ځينې سپارښتنې هم شوې دي.

خو لويه څارنوالي وايي چې تر دې دمه يې په فساد د تورنو شپږو وزيرانو دوسيې ځانګړې محکمې ته استولې دي.

دا په داسې حال کې ده چې په ډېرو لوړپوړو چارواکو له نږدې دوو لسيزو راهيسې د مالي فساد تورونه پورې دي.

د لسو ميليونو ډالرو له قراردادونو نيولې بيا د کلنۍ بودجې په لګښت کې د لوړپوړو چارواکو د فساد او لاسوهنې رپوټونه خپاره شوي، خو تر دې دمه په دې تړاو هېڅ وزير زندان ته نه دی استول شوی.

د لويې څارنوالۍ وياند جمشېد رسولي وايي، د اوسنۍ او مخکينۍ کابينې د شپږو وزيرانو دوسيې يې محکمې ته استولې دي.

نوموړي وويل: «د وزيرانو د دوسيو په اړه تاسو شاهد يی چې د يوې قضيې محکمه يې څه وخت مخکې ترسره شوه. دا چې د نورو دوسيو جزيات څه دي، لويه څارنوالۍ په دې اړه څه نه شي ويلی؛ ځکه چې هغه اوس ځانګړې محکمې ته استول شوې او د قانون له مخې اوس نه شي کولی دا جزيات په ډاګه کړي.»

د ملي يووالي حکومت له جوړېدو سره سم د دغه حکومت مشرانو ژمنه وکړه چې د فساد له منځه وړل يې کاري لومړيتوب دی، خو له دې سره سره لا هم افغانستان د اداري فساد په برخه کې د نړۍ څلورم هېواد دی.

که څه هم پر حکومت نيوکې شته چې له فساد سره يې مبارزه لکه څنګه چې لازمه وه، نه ده کړې، خو حکومت بيا وايي، په دې برخه کې ټينګه اراده لري او ښه بېلګه يې د فساد او سترو جرمونو پر وړاندې د عدلي او قضايي بنسټ جوړول دي. دغه مرکز تر اوسه د مرستيالانو او جنرالانو په کچه لسګونه چارواکي د فساد په تور محاکمه کړي چې ځينو ته يې سزاوې هم ورکړل شوې دي.

## د سولې عالي شورا: د سولې خبرې که هر ځای وي، بايد بين الافغاني وي




د سولې عالي شورا وايي، هېڅ شخص، بنسټ او هېواد نه شي کولای چې د افغان سولې په اړه پرېکړه وکړي.

دا شورا وايي، دوی ته مهمه نه ده چې د سولې خبرې دې چېرته وشي، خو دا ورته مهمه ده چې دا خبرې بايد نېغ په نېغه د افغان حکومت او طالب استازو ترمنځ وي.

د دې شورا وياند سيد احسان طاهري ازادي راډيو ته وويل، د افغان سولې لپاره دوی له هرې هڅې ملاتړ کوي، خو له طالبانو سره د افغان حکومت له مخامخ خبرو پرته به ناستې او غونډې هغه که په هر هېواد کې وي، کومه نتيجه ورنه کړي.

طاهري زياته کړه: «که د زمينې برابرولو او اعتماد جوړولو په برخه کې هر هېواد له موږ سره همغږې همکاري کوي، ورنه هرکلی کوو. اساسي بحث دا دی چې دا ناستې د افغان حکومت او طالبانو سره مخامخ خبرو ته لار هواره کړي، له هغې پرته که ناستې دوام هم مومي، بې نتيجې به پای ته رسېږي. هېڅ شخص، هېڅ بنسټ او هېڅ هېواد نه شي کولای چې د افغانستان د سولې پرېکړه وکړي.»

دا څرګندونې داسې مهال کېږي چې د ځينو رسنيو د راپورونو پر بنسټ، تازه د طالبانو يوه لوړپوړي پلاوي د نوم نه ښودو په شرط رويټرز ته ويلي، له افغان حکومت سره د سولې خبرې نه کوو، ځکه مو د جدې غونډه هم لغوه کړې ده.

دغه طالب چارواکی وايي، سعودي او متحده عربي امارات پر دې ټينګار کوي چې طالبان بايد له افغان حکومت سره د سولې خبرې وکړي، خو دوی دا نه غواړي.

مخکې تر دې طالب وياند ذبيح الله مجاهد هم له رسنيو سره په خبرو کې د جدې د غونډې په اړه بې خبري ښودلې وه، خو د سولې عالي شورا په جده کې له طالبانو سره د سولې د خبرو په اړه جوړېدونکې غونډه نه ردوي، خو وايي نېټه يې لا نه ده مشخصه شوې.

تر دې وړاندې داسې راپورونه خپاره شول چې د افغان سولې په اړه د طالب استازو او امريکا تر منځ راتلونکې ناسته به د سعودي عربستان پر ځای، په قطر کې وشي.

## بولټن: امريکايي ځواکونه به تر هغې له سوريې ونه وځي، څو هلته داعش ډله له منځه نه وي تللې



د امريکا د ملي امنيت سلاکار جان بولټن وايي، له سوريې د ټولو امريکايي سرتېرو د وتلو پرېکړه په دې پورې تړلې چې ترکيه په سوريه کې د کردانو خونديتوب يقيني کړي.

بولټن له اسرائيلو څخه د کتنې پر مهال وويل، د امريکايي سرتېرو ايستل په دې پورې هم تړلي چې په سوريه کې د اسلامي دولت ډلې يا داعش ټول وسله وال له منځه لاړ شي.

د نوموړي په خبره، د امريکايي سرتېرو ايستلو لپاره مهالوېش نه دی ټاکل شوی، دغه مهالوېش د هغې پالېسۍ په پرېکړو پورې تړلی، چې موږ يې عملي کوو.

ولسمشر ټرمپ پر دې هم تاکيد کړی چې دی به ترکيې ته پر هغو کردانو چې له امريکايي سرتېرو سره يې ګډ کار کړی، د حملې اجازه ور نه کړي.

هغه وويل، دوی ګومان نه کوي چې ترکيه به له متحده ايالتونو سره له بشپړې همغږۍ او هوکړې پرته پوځي اقدام وکړي.

ترکيه په سوريه کې کرد ملېشې په ترکيه کې دننه له هغو کرد وسله والو څخه په ملاتړ تورنوي چې استانبول يې ترهګر بولي.

بولټن وايي، په سوريه کې يې له متحده کرد ملېشو غوښتي چې د ترکيې پر وړاندې د ځان ساتنې لپاره له روسيې يا د سوريې د ولسمشر بشارالاسد له حکومته د مرستې غوښتنه ونه کړي.

دا په داسې حال کې ده چې ډونالډ ټرمپ د تېر ميلادي کال د ډسمبر په ۲۰مه، په ټوېټر کې وويل چې له سوريې ټول امريکايي سرتېري به بېرته هېواد ته ستانه کړي.

ټرمپ وويل: «موږ د داعش پر وړاندې جګړه وګټله. داعش مو وځاپه او هغه مو هم سخت وځاپه.»

د ټرمپ د دې پرېکړې پر سر د هغه دفاع وزير جېمز متېس استعفا وکړه او د فرانسې او جرمنې په ګډون د ناټو متحدينو وويل چې د سوريې په اړه د متحده ايالتونو په دريځ کې ناڅاپي بدلون به د اسلامي دولت ډلې يا داعش پر وړاندې جګړه او هم هغه کرد ملېشې چې د دې ډلې پر وړاندې جنګېږي، له خطر سره مخ کړي.

د بولټن دغه څرګندونې له سوريې د امريکايي ځواکونو د وتلو د پلان په اړه چې تمه کېده په څو اونيو کې به عملي شي، د امريکا د حکومت لومړنی تاييد دی چې دې سرتېرو ايستل يې ځنډولي دي.

## د کتــاب خبــرې

# د لوی فکر جادو

◎ لیکوال: دوکتور ډېوېډ شوارتز
◎ ژباړن: میـراحمد یـاد

### لومړی څپرکی
### پر خپل بري باور ولرئ:




خو که څوک په خپل کار کې قوي وي، له تاسې سره داسې نه کوي، هغوی تاسې ته دومره مسئولیت درکوي، څومره چې تاسې اخیستی شئ. که تاسې دا ثابته کړئ چې وړتیا لرئ او لیدلوری مو مثبت دی، نو ستاسې ځواني درته یوه ښېگڼه او امتیاز کېدای شي.
د عمر د بهانې حللارې په لنډ ډول دا دي:
۱) خپل اوسني عمر ته خوشبینه شئ، ځانته ووایئ چې: (زه لا ځوان یم) نه دا چې (بوډا شوی یم.) په نورو برياوو پسې وگرځئ او په ځان کې د ژوند شوق او د ځوانۍ شور پیدا کړئ.
۲) حساب وکړئ چې د رغونې او فعالیت لپاره نور څومره فرصت لرئ. دا یاد ساتئ چې دېرش کلن خلک لا د فعالیت لپاره اتیا سلنه وخت لري. پنځوس کلن هم څلوېښت سلنه فرصت لري، ژوند تر هغې ډېر اورد دی، کوم چې ځینې خلک یې گڼي!
۳) راتلونکي فرصتونه هغو کارونو ته ورکړئ چې تاسې یې رښتیا هم کول غواړئ. ناوخته هله دی چې ستاسې ذهن منفي شي او داسې وگڼي چې ناوخته دی. داسې فکر مه کوئ چې کلونه مخکې مې باید پیل کړی وی. دا خراب فکر دی، ښه فکر دا دی چې: (اوس یې پیلوم، زما د ژوند ښه کلونه له دې وروسته دي.) دا ډول فکر د بریالیو انسانانو ځانگړنه ده.
د. د بخت بهانه. څه وخت مخکې مې د لویو لارو د خوندیتوب په اړه د یوه انجنیر خبرې اورېدې. هغه وویل چې هر کال له څلوېښت زرو زیات خلک په ترافیکي پېښنو کې وژل کېږي. بحث پر دې و چې اصلاً د تصادف په نوم څه نشته. موږ چې څه تصادف بولو، دا اصلاً د یوه انسان یا تخنیکي یا د دواړو د ترکیبي ستونزې او نیمگړتیا پایله ده.
دې ترافیک هغه خبره کوله چې پوهانو پېړۍ مخکې ویلي وو: (هر څه علت لري.) هېڅ شی بې دلیله نه کېږي. تر دې چې هره ورځ د باد او رطوبت کچه هم تصادف نه دی، بلکې په ټاکلو شرایطو پورې اړه لري. اوس دا څنگه منلای شو چې انساني چارې له دې امره مستثنې دي. له دې سره سره بیا هم، داسې ورځ نشته چې یو کس دې خپله ستونزه په (بدمرغۍ) او د بل بریا په (نېکمرغۍ) نه وي توجیه کړې.
اوس به درته دا ووایم چې خلک د بدمرغۍ بهانې ته څنگه تسلیمېږي. څو ورځې مخکې مې له دریو ځوانو مدیرانو سره ډوډۍ خوړله، په هغه ورځ د خبرو موضوع (جورج) و. جورج هغه کس و چې څو ورځې مخکې د دوی له منځه په یوه لوی بست گمارل شوی و.
بحث پر دې و چې جورج یې ولې وټاکه؟ دې دریو تنو ته چې هر علت په مخ ورته، هغه یې مطرح کاوه: بخت، پچه، غوړه مالي ... دا یې هم ویل چې د جورج ښځې له رئیس سره اړیکې لرلې او نور... لنډه دا چې هر څه یې بې له حقیقته وویل. او واقعیت دا و چې جورج یوازې لړه ډېره وړتیا لرله. خپل کار یې ښه کاوه، ډېر کار یې کاوه او شخصیت یې تر دوی ډېر اغېزناک و.
دې ته مې هم پام شو چې د شرکت ټیټ پوړو مامورینو له مودې راهیسې په دې بحث کاوه چې څوک به ترفیع کوي. له ماسره دا واړه ناست ملگري په دې پوهېدل چې عمومي مدیران، دا لوړپوړي مدیران په پچې اچولو نه ټاکي.
څو ورځې مخکې مې د ماشینونو د پرزو تولیدي شرکت، د خرڅلاو له یوه مدیر سره خبرې کولې. خبره د بدمرغۍ په بهانې او خطرونو راغله. دې خبرې سړی هیجاني کړ او له دې مسألې سره د چلند په اړه یې خپله یوه شخصي تجربه راته تېره کړه. ویې ویل: (زه تراوسه نه پوهېدم چې داسې نوم به لري، خو دا یوه مهمه مسأله ده چې د خرڅلاو مدیر باید ورسره مخ شي. پرون مې ستاسو د ټولو خبرو یو شاهد په شرکت کې ولید.
پرون مازدیگر څلور بجې یو پلورونکی شرکت ته راغی او د یو سل او دولس زره ډالرو په بیه د پرزو فرمایش یې هم راوړ. یو بل پلورونکی ډېر کم ظرفه انسان، چې تل یې لانجه جوړه کړې وي، دی هم په دفتر کې و. ده چې د جان له خولې دا زیری واورېد، په بدنیتۍ یې ورته وویل: (مبارک دې وي جانه، بخت دې ښه دی!)
دا سړی په دې نه پوهېده چې د جان لوی فرمایش په بخت پورې اړه نه لرله. جان خواري کړې وه، میاشتې میاشتې یې په هغه پیرودونکي کار وکړ، هلته له ناستو خلکو سره یې سر خوږ کړ، د شپې به تر ناوخته ویښ او دا محاسبه به یې کوله چې څه شی به ورته ښه وي. بیا به یې ساعتونه ساعتونه زموږ انجینران کېنولي وو چې د ماشینونو لومړني ډیزاینونه ورته جوړ کړي. جان په بخت ډېر باور نه درلود، البته که چېرې د ډېزان او چارو په برخه کې شپه او ورځ کار کول بخت وي، نو سمه ده.
داسې وگڼئ چې د جنرال موټرز شرکت د مدیریت د کادر په بدلون کې بخت کار وکړي. که دا په تصادف ټاکل کېدای چې څوک دې څه کار وکړي او څوک دې چېرته لاړ شي، نو د هېواد ټولې چارې به گډې وډې وی. یوه شېبه داسې فکر وکړئ چې د جنرال موټرز شرکت ټولې چارې د تصادف په اساس وي. د دې کار لپاره یې د ټولو کارکوونکو نومونه په یوې ډبې کې اچولای، بیا یې پچه اچولای، لومړی کس رئیس، دویم اجرائیوي رئیس، درېیم مدیر ... او همداسې تر اخره.
دا به لوی کم عقلتوب نه وي؟ خو همدې ته موږ تصادف هم وایو.
په ټولو مسلکونو (بازارموندنه، خرڅلاو، حقوق، انجینري، هنر ...) کې خلک لوړ موقف ته په دې رسېدلي چې مثبت لیدلوري یې لرل او په کار کې یې له ځیرکتیا کار اخیسته. **دوام لري...**

# جک لندن

◀ حکمت ارین



جک د نړۍ مشهور رومان لیکونکی دی. هغه هم د نورو بریالیو او زحمت کښو کسانو په څېر د ژوند هره نادوده منلې او له لوړو او ژورو ډک ژوند یې تېر کړی. دی خپله په دې اړه وایي: «ما د ژوند ډېرې لوړې- ژورې تجربه کړې، له تنگ لاسیو نیولې تر ډېرو بریالیتوبونو، خو یو څه چې پر ما یې ډېر اغېز کړی دی او ما ته یې نوم او نښان راکړی دی، هغه دا دي چې زه هېڅکله نا امیده شوی نه یم. زه چې له هرې سختۍ سره مخ شوی یم، ډېر وخت مې پرې ځان نه دی ځورولی. کله چې موږ فکر کوو، ځورېږو، نو باید کار وکړو او په داسې څه باندې ځان بوخت کړو چې پوهېږو یو څه ترې لاس ته راوړو. ما د ژوند له هرې ناځوانۍ وروسته لیکل کړي دي، هماغه لیکل مې وو چې زه یې له مخکښو لیکوالانو سره معرفي کړم او له ډېرو سترو انسانانو سره مې اړیکې پیدا کړې. د ژوند له لومړي پړاوه چې سختې تنگ لاسۍ مې تجربه کړې، هماغو لیکنو مې چې ما په سختیو کې کړې وې، را وایستلم. ډېر لوستونکي او ملگري مې پیداکړل.»
جک لندن په سان فرانسیسکو کې په غریبه کورنۍ کې زیږېدلی دی. مور یې له پیله لا خوشبخته نه وه. هغه داسې ناروغۍ نیولې وه چې ان په ځوانۍ کې یې لا وېښتان تویې شوي وو.
د جک اصلي نوم کریفیث چیني دی. هغه د ۱۸۷٦ میلادي کال د جنورۍ په ۱۲مه په سان فرانسیسکو کې په غریبه کورنۍ کې زیږېدلی دی. د نوموړي په اړه ویل کېږي چې مور او پلار یې نه درلودل او بل چا رالوی کړی دی. جک لومړنۍ زده کړې تر یوه حده په همدغه ښار کې وکړې او له هغه وروسته اوکلند ته لاړ او هلته لوی شو. هغه رسمي زده کړې ونه کړې او څه یې چې زده وو، د خپلې شخصي مطالعې پر مټ یې زده کړي وو. نوموړي به چې وخت پیدا کړ، نو د اوکلنډ عمومي کتابتون ته به تلو او هلته به یې بېلابېل کتابونه لوستل. نوموړي له کتابونو سره ډېره مینه درلوده او خپل ټول خالي وخت به یې مطالعه کوله. نوموړي په ۱۸۸۹ میلادي کال کې په یوه کارخونه کې ډېر دروند کار پیدا کړ، خو د مجبورۍ له مخې یې ومانه او کار یې پیل کړ. هغه یوه کوچنۍ کښتۍ واخیسته او د صدفو غلا ته یې ملا وتړله. نوموړی په ۱۸۹۳ میلادي کال کې د یو دریایي زمري د ښکار لپاره له ځینو نورو کسانو سره د کارکوونکي په توگه جاپان ته لاړ. ده هلته ډېر وخت تېر کړ، خو له راتگ سره سم یې په امریکا کې اقتصادي بحران رامنځته شو او خلکو د بېکارۍ او لوږې له امله اعتراضونه پیل کړل. ډېر وخت بېکاره او بې روزگاره په کوڅو کې وگرځېد او وړې وړې بدمعاشۍ یې کولې چې بالاخره په بافلو ښار کې زنداني شو. نوموړي له بند وروسته د ښه ژوند کولو تمثیل وکړ، په اوکلنډ کې یې ښوونځی ولوست او له هغه وروسته یې زړه و چې د کالیفورنیا پوهنتون کې زده کړې وکړي. له دریو میاشتو وروسته یې یاد پوهنتون ته لاره پیداکړه، خو د تنگلاسۍ له امله ونه توانېد چې ادامه ورکړي او له یو کال زده کړو وروسته یې بېرته پوهنتون پرېښود.
جک په ۱۸۹۷ میلادي کال کې له خپلو نورو ملگرو سره د اوسون ښار ته لاړ. هلته ناروغ شو او یو کس یې په وړیا ډول درملنه وکړه. د اور لگونې په نوم کیسه د نوموړي د ژوند دا ترخه تجربه بیانوي. نوموړی بېرته اوکلنډ ته راوگرځېد او یاد ښار ته له رسېدو سره سم یې د سوسیالېزم په تبلیغ او لیکنو پیل وکړ. هغه هڅه وکړه چې د خپلو لیکنو او اثارو د پلورلو له لارې پیسې پیدا کړي چې له ډېرو هڅو وروسته په دغه کار بریالی شو. د نوموړي له دې پرېکړې سره سم په اوکلنډ کې مجلو ډېر لوستونکي پیدا کړل او په دغو مجلو کې بیا داستانونو ډېر لوستونکي درلودل. جک خوشبخت و چې د یوې لیکنې له خپرېدو وروسته یې د لنډو کیسو ډېرو لوستونکو هرکلی وکړ، نوموړي له همدې لارې په کال کې شاوخوا ۱۹۰۰ ډالره عاید پیدا کاوه.
د جک په اړه ډېرو لیکوالانو ویلي چې د هغه اصلي مور او پلار مالوم نه دي او دی په پردي کور کې را لوی شوی دی، خو ځینې هغه بیا وایي چې پلار یې نه دی مالوم، خو مور یې فلورا نومېده چې تر ډېره ژوندۍ وه. فلورا هم د جک په څېر خورا بدبخته وه، هغه سخته ناروغه وه. په ځوانۍ کې لا نه یوازې دا چې خپله ښکلا یې له لاسه ورکړې وه، بلکې وېښتان یې هم تویې شوي وو او تر اخېره به یې خولۍ په سروله.
د جک د ژوند په اړه لیکل شویو کتابونو کې د نوموړي د مور ژوند او د هغې د ناروغۍ علتونه داسې بیان شوي دي: «فلورا په ۲۵ کلنۍ کې له خپلې کورنۍ جلا شوه. په سیاټل کې له لنډې مودې ژوند کولو وروسته سن فرانسیسکو ته لاړه، دغه ښار کوچنی و او ډېرو خلکو په ځانگړې توگه نجیب زاده گانو به غوښتل چې د چکر لپاره همدغه ښار ته لاړ شي.»
ځینې وایي چې د جک پلار جان لندن نومېده. هغه پر جک خپل نوم ولوراوه او د یو ښه او مهربان پلار حق یې ادا کړ. جان له جک سره ډېره مینه لرله. هغه د جک لپاره ټول هغه څه وکړل چې د یو زوی حق پر پلار وي.
د مور وضعیت یې ښه نه و، رواني وضعیت یې خورا خراب و او ورځ تر بلې له کار او ژونده لوېده. پر هغې به کله کله د زړه حمله هم راتله چې ټوله کورنۍ یې ورسره په تکلیف وه.
بالاخره جک له خپلې کورنۍ سره اوکلنډ ته کډوال شو. دغه ښار خورا مزخرف او چټي ښار و، خو دوی د مجبورۍ له کبله ورته راغلل او په همدغه ښار کې یې ژوند اختیار کړ.
جان لندن ځمکه واخیسته او په همدې ترتیب جک په پنځه کلنۍ کې په همدې ځمکه کې پر کار بوخت شو.
هغه څه وخت وروسته پر همدې ځمکه کښت وکړ او دی به یې پالونکی و. نوموړي یوه ورځ په همدې ځمکه کې د کار پر مهال له یو عمر لرونکي بزگر سره د بنگو اوبه وڅښلې چې سخت یې ناروغ کړ او څه وخت وروسته یې په یو واده کې شراب وڅښل چې مست یې کړ او د هغه په ژوند کې یې بدبختۍ لا ډېرې کړې.
کله چې جگ اته کلن شو، خور یې الیزا له خپل یو ټولگیوال سره نکاح وکړه او څو کاله وروسته نوموړي له خپلو دریو اولادونو سره د اوکلنډ یوې بلې سیمې ته لاړه. جک په همدې وخت کې له روحي پلوه هر څه له لاسه ورکړي وو. روحي وضعیت یې خورا خراب او بې حاله شوی و.
څو میاشتې وروسته یې کورنۍ د جک کښت او کار له یاده وایست او بېرته خپل پخواني کور ته لاړل. جک خوشحاله و، ځکه خپلې خور الیزا او جنې ته نږدې کېده. د هغه د ښوونځي په لار کې د پهلوانۍ کلپ و، خوښېده یې چې همدلته پهلواني زده کړي، خو په وس یې نه وه پوره. جک به د ښوونځي پر لاره تل جنگونه کول، که څه هم نوموړی له جسمي پلوه پیاوړی نه و، خو په جنجال او جنگ جوړولو کې یې ښه مهارت درلود.
نوموړی په ۱۴ کلنۍ کې د انگلیسي ژبې له انستېټیوت نه فارغ شو، خو د مالي ستونزو له امله یې ونه شو کولی چې خپلو درسونو ته ادامه ورکړي. بالاخره نوموړي د قوطي جوړولو په کارخونه کې کار پیل کړ. په ماشومتوب کې د نوموړي کار کولو د هغه بدن مردانه او پیاوړی کړی و.
بالاخره اوکلنډ ته د بېرته را ستنېدو پر مهال د جک د بریالیتوبونو وخت هم را ورسېد. نوموړي د شمال ادیسه تر عنوان لاندې یو لنډ داستان ولیک او په ۱۹۰۰ میلادي کال کې یې چاپ کړ. د نوموړي دغه اثر ډېر لوستونکي پیدا کړل او جک یې ډېر وهڅاوه، څو په دې برخه کې خپل کار ته په پوره قوت دوام ورکړي.
نوموړي په همدې وخت کې د ډېرو ناشرانو له خوا د کار کولو وړاندیزونه تر لاسه کړل او ډېرې پیسې یې وگټلې. هغه وو چې د نوموړي په ژوند کې د پام وړ تغیرات راغلل. جک له همدې درکه د کار هغومره سرمایه تر لاسه کوله چې ډېرو وړو تجارانو هم نه شوی تر لاسه کولی.
جک په ۱۹۰۲ میلادي کال کې د (the call of the wild) داستان پر لیکلو بوخت و. دغه داستان هم د نوموړي یو له هغو داستانونو څخه و چې ډېر لوستونکي یې لرل. د همدغه داستان له چاپولو وروسته جک له ډېرو خلکو سره ملاقاتونه کول. ده دا وخت د بسي په نوم له یوې ښځې سره واده کړی و، خو له هغې سره یې دا اړیکه سمه و نه شوای ساتلی. بسي به تل پر جک فشار راوړ، څو شراب خوړل او له پردیو ښځو سره ښکته پورته کېدل پرېږدي، خو جک ونه منل او بالاخره بسي مجبوره شوه چې په ۱۹۰۳ میلادي کال کې محکمې ته لاړه شي او له جک نه یې د جلا کېدو غوښتنه وکړه. جک هم ورسره ومنله او طلاق یې ورکړ. نوموړي څه موده وروسته د چارمیان کیتریج په نامه له یوې ښځې سره واده وکړ او تمه یې دا وه چې ښایي ژوند یې ورسره حد اقل د بسي په څېر تېر شي، خو څنگه چې یې ده تمه لرله، هغه، هغه ډول نه وه. کیتریج د بسي په پرتله ډېره حوصله لرله او د نوموړي پر شخصي ژوند یې چندان ډېر کار نه لاره. هغې د نوموړي پر شراب خوریو او له پردیو ښځو سره پر ښکته پورته کېدو هم کار نه درلود، په ځانگړې توگه په هغه وخت کې چې به دی پر لیکوالۍ بوخت و.
جک په امریکا کې د خپل دور تر ټولو غوره لیکوال او رومان لیکونکی و. هغه رومانونه داستانونه، لنډې کیسې، مقالې او نمایشنامې لیکلې چې ټول هغه یې د خلکو له تاوده هرکلي سره مخ وو او ټولو لا ډېر کار او زیار ته هڅاوه.
نوموړي په اتلس کلنه لیکوالۍ کې خورا مهم او مشهور کتابونه ولیکل چې د لوستونکو له تاوده هرکلي سره مخ شول. نوموړي ۵۱ کتابونه او څو سوه مقالې ولیکلې چې بالاخره د ۱۹۱٦میلادي کال د نومبر په ۲۱مه یې په څلوېښت کلنۍ کې له دې دنیا سترگې پټې کړې.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۵,٦۰ |
| € | ۸٦,۲۰ |
| Rp. | ۵۳۹ |
| ₹ | ۱۰۷۵ |
| ¥ | ۱۰,۹۰ |
| £ | ۹۵,۷۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبی | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبی | 08:50 |
| کابل - دوبی | 14:40 |
| کابل - دوبی | 18:15 |

### بیړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زېږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

همیانی

# څنګه له نورو سره ښه چلند وکړو؟

ژباړه: امان الله «حنیفي»



همدا اوس څه احساس لرۍ؟ ښه یاست که بد؟ اجازه راکړئ یوه بله پوښتنه هم درنه وکړم، نن ورځ مو څنګه پیل کړې؟ که تاسې ښه یاست، حتمي به مو ورځ هم ښه پیل کړې وي، که تاسې ښه نه یاست، ټوله ورځ به مو ګډوډه وي.

دا چې زموږ ښه او بد چلند زموږ پر ژوند دومره ژور اغېز لري، بیا نو څنګه هڅه نه کوو چې چلند مو ورځ تر بلې ښه کړو؟

له شخصي کړنو پرته زموږ د چاپېریال یا شاوخوا کړنې زموږ په کنټرول کې نه دي، نو مهمه هم نه ده چې څنګه مخ ته ځي یا څنګه ژوند کوي. ځینې وختونه له داسې خلکو سره مخ کېږی چې تاسې ته ازار درکوي، دا وخت ممکنه ده ستاسې چلند تغیر وکړي یا په اصطلاح د هغوی د چلند په مقابل کې تاسې هم د هغوی مخالف برخورد وکړی.

په همدې مقاله کې غواړو هغه لارې چارې در وپېژنو چې له نورو سره ستاسې د بد چلند په مخنیوي یا په اصطلاح پر هغو د کنټرول لرلو کې درسره مرسته کوي.

**څنګه مو خپل بد چلند کنټرول کړو؟**

تر اوسه مو دې ته پام کړی چې څو ځله مو یوځه مخ ته راغلي او ستاسې د بد چلند سبب شوي؟

که غواړی چې همدا څه یا د بد چلند لامل مو وپېژنی، کېدای شي دا شیان مو ذهن ته راشي:

کله مو چې د شپې خوب نه وي کړی
کله چې هوا سمه نه وي
کله چې په ساعتونو په لارو کې بند پاتې وی
کله مو چې همکار ښه کس نه وي
کله چې یوڅوک درناوی نه درته کوي.

او ډېر نور کېدای شي داسې مسایل وي چې هغه ستاسې د بد برخورد یا د حواسو د ګډوډېدو لامل شي.

بدې پېښې تل پېښېدونکې دي او ژوند هغسې لکه موږ یې چې غواړو، سل په سلو مخ ته نه ځي. حتی د نړۍ تر ټولو خوشاله، شتمنو او بریالیو کسانو هم داسې پېښې لیدلې چې هغوی ترې ځوربدلي دي.

د هر کار د ښه والي لپاره مجبور یو چې لومړی د هغه په اړه پوه شو. که غواړو چې پر خپل بد حالت کنټرول ولرو، نو لومړی باید د هغه رامنځته کېدونکی لامل وپېژنو.

د بدو پېښو رامنځته کېدل اصلاً بد نه دي، بلکې باید پوه شو څو له هغو شیانو ځان وساتو چې زموږ د بد چلند لامل کېږي.

دا په یاد لری چې کېدای شي بد احساسات مو ګټور وي، هغه څه چې ستونزې پیداکوي د احساساتو تجربه کول نه دي، بلکې په هغه کې د اوږد وخت لپاره پاتې کېدل بد حالت دی.

هغه کار چې باید سرته یې ورسوی، کنټرول یې کړی. مانا دا چې سرته یې ورسوی، څو مو ورسره بد حالت یا چلند هم له منځه لاړ شي. د دغه کار لپاره یوازې دا هم کاپي ده چې له ځان سره د یاددښت کتابچه ولری او ټول هغه څه پکې یادانښت کړی چې غواړی راتلونکو دوو اونیو کې یې سرته ورسوی.

په یاد لری د دغه کار سرته رسول د بدې تجربې له تجربه کولو بد نه دي، بلکې له دې مو موخه یوازې د خپلې پوهې او تجربې زیاتول دي.

ځکه یوازینۍ هغه لاره چې موږ په بدو احساساتو کې له ډوبېدو بچ ساتي، هغه د همغو بدو احساساتو په اړه ډېر معلومات او پوهه درلودل دي.

**څنګه له نورو سره ښه چلند وکړو؟**

وروسته له هغې چې مو خپله پوهه د هغه په نسبت چې تاسې ناارامه کوي، زیاته کړه؛ باید پر بل ګام اخیستو تمرکز وکړئ.

بل ګام د خپلو لومړنیو غوښتنو تعقیبول دي. کېدای شي ځینې وختونه له خپلو نږدو ملګرو او دوستانو بد خبر واوری. خو پام مو وي، احساساتي چلند ونه کړئ، ځکه زموږ لومړنۍ غوښتنې تر هرڅه مهمې دي، باید څو دقیقې حوصله وکړو او د خبرې هر اړخ ښه وسنجوو.

مهمه دا ده چې خپل احساسات کنټرول کړو او احساساتو ته مو اجازه ور نه کړو چې اړیکې مو خرابې کړي. که مو اړیکې ارزښتمنې او مهمې وي، په تونده لهجه خبرې مه کوی، حتی که په دغه کار سره تاسې ارامېږی هم.

د خپل چلند مهارول اسانه کار نه دی. دا هغه ځانګړنه ده چې ډېرې هڅې ته اړتیا لري. که مو خپل ځان ته وخت ورکړی او هغه تمرین کړی، پر هغه څه به لاسبري شی چې ستاسې د حواسو په کنټرول کې درسره مرسته کولای شي.

هغه کار چې تاسې یې باید د بدې پېښې په وخت کې سرته ورسوی، د ښو شیانو په اړه فکر کول دي. باید داسې کار وکړی چې ستاسې د مغز په ارامولو کې درسره مرسته وکړي. داسې موخه مو د ځان لپاره وټاکئ چې له لسو دقیقو زیات په بد حالت کې د پاتې کېدو اجازه در نه کړي.

**ماتې مه منئ**

هېڅوک دا ادعا نه شی کولای چې مو تر اوسه یې کومه بده پېښه نه ده تجربه کړې. ژوند ناممکنه وړاندوېینه ده. تل داسې لټونه خوري چې د بدو پېښو د پېښېدو چانس پکې ډېر وي، خو هغه څه چې د ښو او بدو خلکو ترمنځ د توپیر لامل کېږي، دا دي چې ښه له هغو یې په بد حالت کې نه پاتې کېږي او بد هغه یې په بد یا منفي حالت کې پاتې کېږي. ښه هغه یې ورځ تر بلې له بد حالت څخه د وتلو لارې چارې لټوي.

ژوند له هغې ډېر لنډ دی چې تاسې یې په بد حالت کې تېر کړی او له ښو هغو یې هېڅ خوند وانه خلی. بس نو تر هغه چې ژوندي یاست او ژوند کوی، کوښښ وکړئ چې ژوند مو ورځ تر بلې ښه شي.

## ایران: طالبان هڅه کوي چې له افغان حکومت سره سولې ته ورسېږي



د ایران د ملي امنیت شورا منشي وایي، وسله وال طالبان هڅه کوي چې له افغان حکومت سره سولې ته ورسېږي.

د دغه هېواد د ملي امنیت شورا منشي علي شمخاني په ایران کې (د اسیا په لوېدیځ کې امنیت او دفاع) په نوم غونډه کې ویلي چې ایران هم له افغان حکومت سره د سولې په برخه کې مرسته کوي.

د ایران د تسنیم خبري اژانس راپور له مخې، شمخاني ویلي چې امریکا د خپلو استازو له لارې د افغانستان د سولې مذاکراتو په اړه دوی ته ویلي چې چمتو دي په دې اړه ورسره خبرې وکړي، خو امریکایي چارواکو او وسله والو طالبانو لا تر اوسه په دې اړه څه نه دي ویلي.

ایران په سیمه کې یو له هغو هېوادونو دی چې په دې وروستیو کلونو کې یې له افغان وسله والو طالبانو سره اړیکې پراخې کړې دي.

دا په داسې حال کې ده چې د تېرې شنبې په ورځ د ایران د بهرنیو چارو وزارت مرستیال سیدعباس عراقچي کابل ته د خپل سفر پرمهال، ولسمشر محمد اشرف غني ته له طالبانو سره د خپلو وروستیو کتنو په اړه جزیات ورکړل.

ایران داسې مهال له افغان سولې سره د همکارۍ خبره کوي، چې په دې وروستیو کې د افغان سولې په اړه د بېلابېلو اړخونو له خوا هڅې زیاتې شوې دي.

تېره میاشت په ابوظبۍ کې د امریکا متحده ایالتونو، طالبانو، سعودي، اماراتو او پاکستاني استازو ترمنځ د افغان سولې په اړه دوه ورځنۍ غونډه وشوه.

ټاکل شوې وه چې بله ورته غونډه به په روانه جنورۍ میاشت کې په سعودي عربستان کې وشي، خو رویټرز اژانس د طالب چارواکو په حواله راپور ورکړ چې دوی به د سعودي په غونډه کې ګډون ونه کړي.

یوه طالب چارواکي د نوم نه ښودلو په شرط، دغه اژانس ته ویلي چې دوی غواړي د سولې خبرې او تماسونه دې په قطر کې وشي.

## سره میاشت: د زړه د سورې پر ناروغۍ د ۴۰ سلنه اخته ماشومانو درملنه په هېواد کې دننه کېږي



د سرې میاشتې ټولنه وایي، په افغانستان کې د زړه د سورې پر ناروغۍ د اخته ماشومانو د درملنې ٦۰ سلنه زمینه برابره شوې، خو پر دې ناروغۍ لا هم د اخته کسانو ۱۵ سلنه تلفات د اندېښنې وړ دي.

په افغانستان کې د دې خیریه ټولنې سکرتېرې نیلاب مبارز تېره ورځ روغتونونو ته د زړه د سورې پر ناروغۍ د اخته کسانو د ورپېژندلو په غونډه کې وویل، پر دې ناروغۍ د اخته کسانو د درملنې امکاناتو ته په کتو، له دې وروسته به د ۴۰ سلنه ناروغانو درملنه په هېواد کې دننه کېږي.

نومورې وویل: «د خوښۍ ځای دی چې یوشمېر ناروغانو ته زمینه برابره شوې چې دننه په هېواد کې یې درملنه وشي، اوسمهال ډېر امکانات برابر شوي او بهر ته د تلو اړتیا نه لیدل کېږي».

دغه ټولنه وایي، په افغانستان کې د زړه د سورې پر ناروغۍ اخته ٦۰ سلنه ماشومان د درملنې لپاره هند ته استول کېږي.

د سرې میاشتې ټولنه له ۲۰۰۸ ز کال راهیسې د زړه سورې پر ناروغۍ د اخته ماشومانو درملنه کوي چې تر اوسه پورې ۱۵۳۲۰ افغان ماشومان د درملنې په موخه ورسره ثبت شوي او ٦٦۴٦ نور یې انتظار باسي.

نیلاب مبارز وویل، تر اوسه هند، چین، د قطر سرې میاشتې ټولنې او ځینو حاجیانو د افغان ماشومانو د درملنې لپاره مرستې کړې دي.

نومورې وایي، دا مهال د افغان سرې میاشتې ټولنې سره اته بېلابېل روغتونونه کار کوي او هڅې روانې دي څو دغه روغتونونه ډېر شي او افغان ماشومانو ته په هېواد کې دننه د درملنې سل په سلو امکانات برابر شي، خو د ولسي جرګې د روغتیا کمېسیون غړې پروین نورستانۍ د روغتونونو دا شمېره د قناعت وړ نه ګڼي.

د نومورې په خبره، شته روغتونونه هم معیاري کار نه شي کولای، د سرې میاشتې ټولنه باید د افغان ماشومانو د درملنې لپاره له هېواده بهر زمینې برابرې کړي.

مسیر ورځپاڼه
مسوول مدیر: اسدالله وحیدي
مرستیال: شفیق امیرزی
ایډېټران: جواد تیموري او امان الله حنیفي
لیکوالان: محمد نظیم سمون، جاوید کوټوال او شفیق همدرد
خبریالان: حمیدالله حمیدي، حکمت آرین او حشمت الله نوري
ګرافیک او ډیزاین: ارمان
چاپخونه: وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦ ۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily





سه شنبه د ۱۳۹۷ د مرغومې ۱۸مه | د ۲۰۱۹ د جنوري اتمه | دویم کال | ۳۱٤مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۵ | ۱٤ | ۲۰ | ۱۳ | ۱۷ | ۱۳ |
| -۱۲ | ۰ | ۰ | ۱ | ۱ | -۲ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۳۲ | لمر ختل ۰۷:۰۰ | ماسپښین ۱۲:۰۰ | مازیګر ۰۳:۲۲ | ماښام ۰۵:۰۰ | ماخوستن ۰٦:۲۹

## نړۍ




## روحاني: په ایران کې د اوبو کمښت د اندېښنې وړ دی



د ایران ولسمشر حسن روحاني وايي، په دغه هېواد کې د اوبو د زېرمو کمېدل د اندېښنې وړ دي.
روحاني د دوشنبې په ورځ د ایران کرنې وزارت له مسوولینو سره په لیدنه کې ویلي چې د اوبو د زېرمو کمېدو له اړخه ایران په ښه حالت کې نه دی.
د ایران د تسنیم خبري اژانس د راپور له مخې، نوموړي په دغه هېواد کې د اوبو د زېرمو کمېدل، د خلکو له امنیت سره تړلې موضوع بللې ده.
روحاني ویلي: «که چېرې اوبه نه وي، نور ډېر مشکلات رامنځته کېږي، له دې امله دا د خلکو له امنیت سره تړاو لري».
دا په داسې حال کې ده چې په دې وروستیو کې د ایران له ځینو سیمو څخه د وچکالۍ له امله د اوبو کمېدو په اړه راپورونه ورکړل شوي دي.
له افغانستان سره پر پوله د ایران پرتې سیمې، د هلمند سیند له اوبو څخه خړوبېږي چې په دې وروستیو کې په افغانستان کې هم د بارانونو د کمېدو له امله د هلمند سیند اوبه کمې شوې دي.
دوه کال وړاندې افغان حکومت ویلي وو چې د هېواد د لوېدیځې برخې اوبه به مدیریت او په ټول هېواد کې به د اوبو د مهارولو او مدیریت په موخه ۲۱ لوی او واړه بندونه جوړ کړي.
د ایران ولسمشر هغه مهال ویلي وو چې هېواد یې په افغانستان کې د اوبو د بندونو په اړه بې تفاوته نه شي پاتې کېدای.
هغه وخت په افغانستان د اوبو د بندونو په اړه د روحاني څرګندونې وغندل شوې او پر ضد یې لاریونونه هم وشول.

## ټرمپ: امریکايي پوځ په یمن کې د البدوي په وژلو سره عدالت تامین کړ




د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ وايي، د امریکا پوځ په یمن کې د القاعدې یو مشکوک غړی چې په ۲۰۰۰ ز کال کې د امریکايي ځواکونو پر یوې کښتۍ د برید اصلي طراح بلل شوی، وژلی دی.
ټرمپ په یوه ټویټري پیغام کې ویلي چې امریکايي ځواکونو د جمال محمد البدوي په وژلو سره په دغه هېواد کې عدالت تامین کړ.
ټرمپ زیاته کړې: «زموږ ځواکونو د جمال البدوي په وژلو سره عدالت تامین کړ. د القاعده پر وړاندې به زموږ مبارزه دوامداره وي، موږ به هېڅکله د اسلامي سخت دریځو پر وړاندې خپله مبارزه ونه دروو.»
البدوي په ۲۰۰۰ ز کال کې د «یو. اېس. اېس کول» په نوم پر امریکايي کښتۍ باندې د برید اصلي مسوول بلل شوی چې د امریکا د سمندري ځواکونو ۱۷ غړي پکې وژل شوي وو.
د جرمني د خبري اژانس د راپور له مخې، د امریکا مرکزي قوماندانۍ هم د تېرې جمعې په ورځ د امریکايي ځواکونو له لوري په یمن کې د البدوي وژنه تایید کړې ده.


## کاندیدان چهار وزارت و عضویت دو چوکی ستره محکمه به ولسی جرگه معرفی می‌شوند



ولسی جرگه می گوید که اسناد چهار نامزد وزیر و دو نامزد عضویت ستره محکمه به شمول یک خانم، به این جرگه رسیده و قرار است معرفی آنها به این مجلس، شامل آجندای هفتهٔ جاری این جرگه شود.
در حال حاضر وزارت معارف، اطلاعات و فرهنگ، مالیه، امور داخله، دفاع، معادن و پترولیم، انرژی و آب، شهرسازی و مسکن و امور خارجه، از سوی سرپرستان اداره می‌شود.
امیرخان یار نایب دوم ولسی جرگه در نشست دیروز این جرگه گفت که اسناد اسدالله خالد نامزد وزیر دفاع ملی، امرالله صالح نامزد وزیر امور داخله، میرویس بلخی نامزد وزیر معارف و حسینه صافی نامزد وزیر اطلاعات فرهنگ و دو نامزد عضویت ستره محکمه (انیسه رسولی و عبدالشکور مهجور)، به ولسی جرگه رسیده و به کمیسیون ها دایمی این جرگه نیز تکثیر شده ا ست .
امیرخان یار افزود، قرار است در نشست هفته جاری کمیتهٔ رؤسا، معرفی این نامزدان از سوی یکی از مقام های دولتی به ولسی جرگه شامل آجندای این جرگه شود.
یار گفت که سرپرستی در ادارات به خصوص در وزارت ها مشکل ساز شده است و وزرای معرفی شده با گرفتن رای اعتماد، به این جرگه پاسخگو خواهند شد.
این درحالی است که حکومت در ماه سرطان سال ۱۳۹٤ نیز انیسه رسولی را برای عضویت در شورای عالی ستره محکمه برای کسب رای اعتماد به ولسی جرگه معرفی کرد؛ اما با کسب ۸۸ رای موافق، ۸۳ رای مخالف، ۷ رای باطل و ۱٤ رای سفید، نتوانست اعتماد ولسی جرگه را به دست بیاورد.
به اساس مادهٔ شصت و چهارم قانون اساسی، تعیین وزراء و رئیس و اعضای ستره محکمه، به تائید ولسی جرگه از صلاحیت های رئیس جمهور است و به اساس مادهٔ نود و یکم، ولسی جرگه می‌تواند هر یک از وزراء را استیضاح نماید.

## ژوند

## د بدن اضافي غوړي څه ډول کنټرول کړو؟



کلسټرول د بدن لپاره حیاتي ارزښت لري او په سمه توګه د کار کولو لپاره ورسره مرسته کوي. په بدن کې د کلسټرول دنده دا ده چې له غدو سره د هورمونونو او له ینې سره د صفرا په تولید او د حجرو د جوړښت په ساتنه کې مرسته کوي، خو پر دې ګټو سربېره د کلسټرولو د ځینو ډولونو زیاتېدل بدن له بېلابېلو روغتیايي ستونزو سره مخ کوي چې تر ټولو جدي خطر یې دا دی چې د زړه د حملې لامل کېږي. پر دې سربېره ډېرې نورې روغتیاي ستونزې هم پېښولی شي. د مضرو کلسټرولو د زیاتېدو مخنیوی په لاندې توګه کېدای شي:
۱- هغه خواړه ډېر وخورئ چې زړه ګټور وي، لکه تازه مېوې، سابه او حبوبات.
۲- هغه څه کم وخورئ چې ډېره خوړه لري، غوړي یې زیات وي او یا سوډیم لري.
۳- داسې خواړه وخورئ چې په زیاته کچه فایبر ولري، لکه لوبیا، دال نخود، اوربشې، منې، تور رنګه ډوډۍ... .
۴- د زیتون غوړیو کارول تر نورو غوره دي.
۵- مسالې لکه دارچیني، هوره، مرچک او زنجفیل ستاسو په وجود کې ښه کلسټرول زیاتوي چې دا خپله د مضره کلسټرول په کمېدو کې مرسته کوي.

## ماشومانو ته مو باید کوم ډول کتابونه واخلی؟



خپلو ماشومانو ته یوازې د هغوی د خوښې کتاب راوړی او د ذوق احترام یې وکړئ، ډاډه اوسی، هغه څه چې دوی یې د ځان لپاره خپله ټاکي، د دې سبب ګرځي چې له کتاب لوستلو سره مینه پیدا کړي، خو یوځه ته مو باید پام وي، دوی ته داسې کتاب راوړی چې اړوند توکي پکې د دوی له سن سره برابر، ګټور او داسې څه پکې نه وي چې پر دوی بد اغېز وکړي. که یې بیا هم غوښتنه وه، دغه چاره داسې مدیریت کړی چې ماشوم مو د کتاب له لوستلو زړه توری نه شي او په پایله کې د بل کتاب د اخیستو غوښتنه وکړي.

**اولادونه مو د عامه کتاب خونو غړي کړئ**

ډېری وخت ماشومان غواړي چې یو کتاب یې په خپل نوم وي او دا احساس کړي چې ګواکې دغه کتاب د ده خپل مال دی او ډېری وخت له هماغه یوه کتاب سره مصروف وي، خو دا کاپي نه ده. کېدای شي له کیسو نور ستړي شوي وي. کتاب خونه له دوی سره مرسته کوي چې د خپلې خوښې هر ډول کتاب پکې پیداکړي، بې له دې چې پیسې پرې ورکړي. کتاب خونو ته د ماشومانو بېول مو له کتاب خونو سره د ماشومانو مینه زیاتوي.